# د افغانستان
# د څېړنو خبرپاڼه

۱۴مه ګڼه، ۱۳۸۲ لمريز کال د چنګاښ مياشت


۲ سرليک: په پاکستان کې د ميشتو افغانانو نوم ليکنه

۴ د څېړو کتابونو لست: په پاکستان کې ميشت افغانان

۵ د دغه اداری خبرونه او نوښتونه

۶ اوسني څېړنې

۷ د دغې ادارې نوې خپرونې

۸ په افغانستان کې څېړنيزه سرچينې او کتابتونونه

۱۱ نوی خپرونې او سرچينې

۱۱ افغانستان او بيا رغونه

مدنی ټولنه

کرنه

لنډې او عمومي

۱۲ اقتصادي پرمختګ

۱۵ زده کړه او ماشومان

جنسيت (جنډر)

د افغانستان تاريخ سياست او حکومت داري

۱۹ روغتيا

۲۰ قانون، عدالت او بشري حقونه

۲۱ نخشې

رسنۍ

۲۲ کډوالیتوب

طبيعي سرچينې

۲۳ ترياک

امنيت


## د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

*د څېړنې له لارې د افغانانو ژوند ښه کول*

AREU

# سرلیک: په پاکستان کې د میشتو افغانانو نوم لیکنه

دغه مقاله *په پاکستان کې د میشتو افغانانو د نوم لیکنې* په نامه د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د پاکستان د حکومت د سرحدونو د وزارت، ملي دیتابیز او د نوم لیکنې دفتر، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، پاکستان، راپور له ۱ څخه تر ۱۰ مخ څخه اخستل شوی ده. او په دغه برېښنا پاڼه کې موجود دی. www.unhcr.org.pk. (PDF ... 75 MB)

## شا لید

د ۲۰۰۵ زیږدیز کال د مارچ له میاشتې څخه مخکې په پاکستان کې د میشتو افغانانو شمیره یوازې یو بې سنده اټکل وو. د داسې یوې ستراتیژۍ د برابرولو لپاره چې په موقت ډول په پاکستان کې میشت افغانان اداره او تعدیل شي او په افغانستان کې د بیرته راستنیدو او ځای پر ځای کیدو سره د هغه اړیکې څرګنده شي د پاکستان حکومت او د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ موافقت وکړو چې په پاکستان کې د میشتو افغانانو سر شمیرنه او نوم لیکنه تر سره کړي. د سر شمیرنې لومړی مرحله په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې تر سره شوه او د هغوی شیره یې ۳٫۰۴ میلیون څرګنده کړه.

د دوهمې دورې څخه مقصد دا وو چې په سر شمیرنه کې د شمیرل شویو افغانانو نوم لیکنه تر سره شي، او د هغوی شمیره د لوړې تکنالوژۍ سره اماده شویو کارتونو په ورکولو سره ثابت کړي. دغه مرحله د ۲۰۰۶ زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې پیل او د ۲۰۰۷ زیږدیز کال په فبروری کې بشپړه شوه. د نوم لیکنې د باوري ساتلو لپاره د ګوتې نښه او عکسونه هم واخستل شوو. د دغه کارونو ترسره کولو د جعل کارۍ او د بیا نوم ثبتولو مخنیوي وکړ او د نوم ثبتولو په پای کې ۲،۱۷۰ تکراري نوم ثبتونې وپېژندل شوې. د کلتوري دلایلو لپاره، ښځینه عکس نیوونکي او د نوم لیکنو کارکوونکي ګمارل شوي وي. له ۶۲٪ ښځو څخه زیاتو د هغوی د مخ عکس اخستلو سره موافقه وکړه، او له پنځه کالو څخه کوچنې ماشومان د مور او پلار په کارتونو کې ثبت شول.

په دغه پروسه باندې ۲ میلیونه امرکایې ډالر ولګیدل او دغه سرمایه د پاکستان هیواد، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ له خوا او یو شمیرو نورو بین المللي بسپنه ورکوونکو له خوا ورکړل شوه. له پیل څخه تر پایه پورې ۱۵ اونۍ وخت ولږیدو چې په لومړیو اونیو کې د نوم لیکنو په ۱۰۰ مرکزونو کې هره اونۍ یوازې ۲۵،۰۰۰




اشخاصو خپل نومونه ولیکل، او وروسته له ۱۲مې اونۍ څخه په هره اونۍ کې ۲۰۰،۰۰۰ اشخاصو نومونه ولیکل.

## د نوم لیکنو خلاصه

د ۲۰۰۶ زیږدیز کال د اکتوبر او د ۲۰۰۷ د فبروری تر منځ د پاکستان حکومت او د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ په پاکستان کې ۲،۱۵۳،۰۸۸ افغانانو نومونه ولیکل. اکثره (۸۵٪) افغانان په دوه ولایتونو کې چې افغانستان سره مجاورت لري ژوند کوي، د شمال لویدیځ سرحدي ولایت او بلوچستان، چې په دغو ولایتونو کې د ثبت شوی نفوس ۱٫۳۷ میلیون (۶۴٪) او ۰٫۴۴ میلیون (۲۱٪) اشخاص میشت دي. په پاکستان کې میشت افغانان د دغه هیواد ۱٫۴٪ نفوس او د افغانستان د ټول نفوس ۸٪ فیصده برخه

جوړوي. ثبت شوی شمیره د ۲۰۰۵ کال د سر شمیرنی په پرتله ۳۰٪ کمښت څرګندوی. او دغه توپیر داسی بیانیږی چې د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ کال په اوږدو کې ۵۸۲،۵۳۵ اشخاص هیواد ته راستانه شوی او دا چې ۳۱۳،۲۴۵ اشخاصو هم نوم ندی لیکلي. د نفوس پیژندنی او ټولنیزه اقتصادی اړخونو په نظر کې نیولو سره د سر شمیرنی او ثبت شوی نفوس تر منځ کوم ځانګړی توپیر موجود ندی. خو د هغو خلکو فیصدی چې افغانستان ته راستنیدو په هکله امنیت خپله ستره اندېښنه ګڼی لوړه شوی ده، چې په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې ۱۸٫۲٪ وه او په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې ۴۱٫۲٪ ته لوړه شوی ده.

## نفوس پیژندنه

نفوس پیژندنه پوری اړوند جزیات څرګندوی چې د ۲٫۱۵ میلیونو ثبت شویو افغانانو ۷۸٪ ښځې، ماشومان او ځوانان او یا بوډاګان (هغه چې له ۶۰ کالو څخه زیات عمر لری) جوړوی. ۱٫۸ میلیونه یې له ۱۸ کلونو څخه کوچنې دی چې د ثبت شوی نفوس زیاتر (۵۵٪) برخه جوړوی. په ټولو سنونو کې د ښځو (۴۲٫۸٪) په پرتله د نارینه وو (۵۳٪) شمیره زیاته ده، د ثبت شوي نفوس ۳۳٪ واده کړي کسان او ۲۲٪ لویان مجرد دي. په پاکستان کې دمېشتو ۳۹۳،۰۴۴ افغاني کورنیو تر ۸۰٪ څخه زیاتې د ۵ غړو لرونکې دي، د دغه نفوس زیاته برخه (۸۳٪) پښتانه دي او زیاتره د افغانستان د ختیځ او سهیل د ولایتونو له کلیوالي سیمو څخه راغلي دي. ۴۲٪ له ننګرهار، کابل یا هم له کندز څخه راغلي دي.

## اقتصادي- ټولنیزې ځانګړتیاوې

په پاکستان کې مېشت زیات شمېر افغانان (۵۵٪) په ښارونو او ښارګوټو کې او ځیني نور (۴۵٪) په کمپونو کې ژوند کوي. د کمپونو زیات شمېر اوسېدونکي (۹۳٪) پښتانه دي. ډېر شمېر (۸۳٪) تاجکان ، هزاره ګان او ازبکان په ښارونو او ښارګوټو کې ژوند کوي. په پاکستان کې د مېشتو افغانانو زیات شمېر (۷۱٪) د رسمي زده کړو لرونکي نه دي. هغوي چې په زده کړه بوخت دي، ۱۷٪ په دیني مدرسو یا غیر رسمي ښوونځیو کې زده کړه کوي. یواځې ۱۳٪ په رسمي لومړنیو ، ثانوي او منځنیو زده کړو کې ګډون لري. په ټولو رسمي زده کړو کې د نارینه وو په پرتله د ښځو شمېره ډېره کمه ده.

یواځې ۴۳۷،۸۲۵ اشخاص یا په بل عبارت ۲۰٪ پاکستان مېشته افغانان د کار په بازار کې فعالیت کوي. د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ، ۷۱٪ په سلو کې نفوس عاید نلري او ۸۹٪ د کاري مهارتونو څخه بې برخې دي. دغه شمېرې ښیي چې د نفوس لویه برخه (ماشومان، ځوانان او ښځې) کار نلري. ۴۸٪ په کار لګیا اشخاص د غیر ماهر یا مزدورکار په توګه کار کوي.

د کورنیو د عاید کچه ټیټه ده، ځکه چې ۸۳٪ په کار بوخت افغانان د یوه پاکستاني (غیرماهر کارګر) د ترټولو کمې ګټې په پرتله چې په میاشت کې ۴،۰۰۰ روپۍ ده، کمه ګټه لري. د عاید ځانګړتیاوې او مهارتونه په کمپونو او ښارونو کې یو شان دي. په پاکستان کې د مېشتو ثبت شوو افغانانو کم شمېر (۲۲٪) د مځکې او (۱۲٪) د نورو شتمنیو لرونکي دي.

## ځانګړې اندېښنې

تر ۲۹۷،۰۰۰ زیاتو کسانو چې په پاکستان کې دمېشتو افغانانو ۱۴٪ جوړوي، د نوم ثبتولو د پروسې په اوږدو کې خپلې ستونزې بیان کړېدي. له دې شمېرې ۱۷۰،۴۸۱ کسان (۵۷٪) په کمپونو کې اوسېدل. ۱۴۱،۴۸۰ اشخاصو (۵۸٪) ځانګړو قانوني او د فزیکي ساتنې ستونزو ته اشاره کړېده. نورې اندېښنې چې د شمېر له مخې د اهمیت وړ دي، د ښځو په سرپرستې کورنې دي (۴۳،۴۳۵ کسه)، ځانګړي روغتیایي شرایط (۳۵،۱۳۲ کسه)، او تر ګواښ لاندې ماشومان/ځوانان (۲۳،۳۱۰ کسه).

## افغانستان ته راستنېدنه

د ثبت شویو افغانانو زیات شمېر (۸۲٪) په نږدې وخت کې افغانستان ته راستنېدو نیت ندرلود. پدې اړه د ټولو هغه افغانان چې په ۲۰۰۰ او د هغه راوروسته کلونو کې پاکستان ته تللي دي یو ډول نظر درلود. دغه ټکي د ۲۰۰۰ کال د سرشمېرنې څخه دلاسته راغلو پایلو تاییدوونکي دي. د هغو افغانانو د نظرونو ترمینځ چې د راستنېدنې نیت یې نه درلود د سیمې، د نفوس شمېرنې، قومیت یا د اوسېدلو ځای (کمپ یا غیرکمپ) له نظره کوم توپیر نه درلود. د راستنېدنې ترټولو لوی خنډونه امنیت (۴۱٪)، سرپناه (۳۰٪)، او معیشت (۲۴٪) وو. د ځمکې نه درلودل هم د نه راستنېدلو یو لامل ؤ. ۸۹٪ پاکستان مېشته افغانانو د دوی په وینا ځمکه نه لري. ځیني هم چې راستنېدو ته لېواله وو زیاتره د ننګرهار، لغمان، کابل، بغلان، کندز او لوګر اوسېدونکي وو. د دوی زیاته برخه (۸۴٪) پښتانه دي او په شمال لویدیځ او سرحد صوبه کې ژوند کوي. ■

# د څېړو کتابونو لست: په پاکستان کې مېشت افغانان

د پير سينتيوس ليکنه

**افغان کوچيان: کاروانونه، نښتې او په افغانستان او برتانيوي هند کې سوداګري ۱۹۸۰-۱۸۰۰**

Klaus Ferdinand. Copenhagen: Rhodos International Science and Art Publishers, 2006. 512 p.: col. ill., maps (some col.) ; 30 cm. ISBN 8772455756.

د نوموړي کتاب ليکونکي کلاوس فرديناند د ۲۰۰۶ کال د جنوري په مياشت کې له دنيا سترګې پټې کړې، يو څه وړاندې هغه کتاب تصحيح کړي ؤ او په حقيقت کې دغه کتاب د نوموړي وروستنی اثر او په افغانستان کې د نوموړي د نيمې پېړۍ څېړنو او مطالعو لنډيز دي. کلاوس په ذقش **۱۹۵۵-۱۹۵۳** کلونو کې د هنينګ هاسلند کريستنسن په درناوي کې ګډون درلود او د ۱۹۶۰، **۱۹۶۵**، **۱۹۷۴** کلونو ترمينځ نوموړي خپلو څېړنو ته د نوموړي د ښځې مارين په ملګرتيا چې کتاب يې هم ورته ډالۍ کړئ، ادامه ورکړه. نوموړي هېڅکله د څېړنې او خپلو آثارو د خپرولو څخه لاس وانخيست. د ده اوسني اثر د نوموړي د زده کوونکو او همکارانو برث فدريکسن، استا اولسن او ګورم پدرسن د سيمه ايزو کارونو پايلې په نظر کې لري.

دغه کتاب له شپږو برخو جوړ شوی. لومړۍ برخه د افغانستان د ختيځ پر کوچيانو په ځانګړي ډول په غلزيانو متمرکز دي. دوهمه برخه په نولسمه پېړۍ کې د پښتنو او هزاره ګانو اړيکې څېړي. ددغه کتاب دريمه او څلورمه برخې د کوچيانو پر کاروانونو او بازارونو تمرکز لري. پنځمه برخه په برتانيوي هند کې د کوچيانو سوداګري څرګندوي او شپږمه برخه د دولت او کوچيانو پر اړيکو متمرکزه ده.

لوستونکي په لومړيو کې د ليکونکي لخوا د انځورونو او تور او سپين او رنګه عکسونو مجذوب کېږي او د هغوي له لارې افغان کوچيانو ته ننوځي چې د يوه قوم پوه لخوا په ډېره ښه توګه ښودل شوي دي. ليکونکي د څېړنې لاندې خلکو سره له نږدې کتلي او نوموړي د افغانستان په ختيځ کې د کوچيانو مېشت ځايونو ته بې شمېره سفرونه کړي دي. برسېره پر دې د څېړنې لاندې کتاب د کوچيانو د ادبياتو ښې پوهې او د خلکو او تر څېړنې لاندې شيانو د پاملرنې په بنسټ جوړ شوي دي.




وروستۍ برخه د هغو تغيراتو په اړه چې د **۱۹۷۹** د کودتا او د طالبانو د رژيم د راپرېوتو وروسته مينځ ته راغلي دي بحث کوي. په دې برخه کې تاسې د هغو ناورينونو په اړه چې کوچيانو ته ورپېښ شوي له هغې ډلې له څرځاي څخه بې برخې کېدل په ځانګړي ډول په هزاره جاتو کې، او د دغه تغيراتو سره د دوي د وړتياوو سره آشنا کېږئ. افغان کوچيان د چاپيريالي موقعيتونو څخه ګټه اخلي او دوي يوائېني کسان دي چې د هغه څخه په ښه توګه ګټه اخلي.

جدولونو، مفصلې کتاب پېژندنې، نخشو، ضميمو، عمومي فهرست او ويوکپاڼې (لغت پاڼه) دغه کتاب ته د يوه مرجع کتاب بڼه ورکړې ده.

---

د دغه کتاب څېړنه لومړۍ په فرانسوي ژبه د *افغانستان اطلاعات،* ***۹۵*** *ګڼه، د* ***۲۰۰۶*** *سپتمبر مياشت* کې د افغانانو د ملاتړ لپاره د سويس د کميټې لخوا خپور شواو د جان ارندت لارسن لخوا وژباړل شو.

# د دغه اداري خبرونه او نوښتونه

### د دغه اداري پښتو ویبپاڼه

د دغې اداري د ویب پاڼې د کاروونکو د غوښتنې په ځواب کې د دغه پاڼې ټول توکي په پښتو ژباړل شوي دي. له الف څخه تر یا: د افغانستان لپاره د مرستندوی لارښود پنځمه ګڼه، د دغه اداري بروشور، او زیات شمیر رپوټونه، څېړنې او موضوعي مقالې چې د ۲۰۰۵ کال راهیسې خپرې شوي دي، دغه ټول مطالب له دې پاڼې ډانلوډ (راکښته) کولای شئ.

### د کتابتون لارښود فهرست

د دغه اداري د کتابتون لارښود فهرست په انګریزي، پښتو او دري ژبو د انټرنټ له لارې د اریو د ویبپاڼې www.areu.org.af څخه د لاسرسي وړ دي. د اریو کتابخونه د تېرو کلونو په اوږدو کې د پراختیا په حال کې وه او دغه انټرنیټي فهرست په افغانستان او ټوله نړۍ کې څېړونکو ته د شته سرچینو څخه ګټه اخیستل شوني کوي. دغه فهرست په انټرنټ کې د شته زیاتو اسنادو پتې په ګوته کوي او په پي ډي اف فارمټ کې د ځینو اسنادو کښته کولو آسانه کوي چې په نورو ځایونو کې د لاسرسي وړ نه دي (د کاپي رایټ یا د چاپ د حق په محفوظ او د اجازې په بنسټ). په تېره خپرپاڼه کې د خپاره شوي نوم لړ کتابونو ته د لاسرسي یوه آسانه لاره، د کتابتون د فهرست کتل دي. مهرباني وکړئ او د هرډول فني ستونزې د شتون په وخت کې library@areu.org.af ته خبر ورکړئ.



د دغه اداري پښتو ویب پاڼه



د دغه اداري د کتابتون د کتابونو لست

د افغانستان څېړنیزه خبرپاڼه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري دری میاشتنۍ خپرونه ده. د دغه خبرپاڼې د خپرېدو موخه په افغانستان کې د نویو ترسره شوو څېړنو څخه د لوستونکو خبرول او د څېړنیزو پلټنو د پایلو د خپرولو سره مرسته ده. په خبرپاڼه کې ځینې یادې شوې سرچینې د انټرنټ له لارې د لاسرسي وړ دي، زیاتره کتابونه او نورې خپرونې د دغه اداري په کتابتون کې (د ګل فروشۍ کوڅه او د وهمی کوڅې ځنډه) کې موجود دي او څېړونکي کولای شي د یکشنبې تر پنجشنبې د سهار له ۹ تر ۱۲:۳۰ او د ماسپښین له ۱ تر ۴ بجو پورې له هغه څخه ګټه واخلي. دغه خبرپاڼه د رویس ویلز او ډاکټر عبدالجمیل الکوزي لخوا چمتو، انیا هاودال د هغه د تصحیح او ډیزاین کار کړی او د احمدالله امرخیل او فریدون شارق لخوا ژباړل کیږي. که فکر کوئ چې باید پدې خبرپاڼه کې نور کتابونه او سرچینې هم ځای په ځای شي، د دغه پتې سره اړیکه ونیسئ: newsletter@areu.org.af

د دغه اداري موخه د باکیفیته څېړنو تر سره کول دي ترڅو د هرې برخې پر خبرتیا لامل شي او په سیاستونو او کړنو اغېزه وکړي. دغه اداره د څېړنې او زده کړې کلتور ته د څېړنیز ظرفیت د ځواکمن کولو او د نیوکو د آسانه کولو له لارې پرمختګ ورکوي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د لرلید تر ټولو ارزښتناک ټکی د افغانانو د ژوند ښه والي دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري او سني مالي لګښتونه د اروپایي کمیسیون، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ، نړیوال بانک او د ناروې، ډنمارک، سویډن، سویټزرلند او برتانیې د هیوادونو لخوا ورکول کیږي. زیات معلومات او د نومورې اداري ټولې خپرونې د پي ډي اف په بڼه د هم دغه اداري د ویب پاڼې له لارې په لاس راوړلای شئ: www.areu.org.af

# رواني څېړنې

**د میچلسن موسسه: له نارویې څخه افغانستان ته په خپله خوښه راستنېدنه– څه پېښې شول؟**

د ۲۰۰۵ لمریز کال په وروستیو کې، د نارویې چارواکي د افغان او د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د چارواکو سره د افغان کډوالو د په خپله خوښه راستنېدنې په اړه موافقې ته ورسېدل. د نارویې د کډوالۍ اداره (UDI) او د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له یو بل سره د همکارۍ پروژه "افغانستان ته ستنېدنه" پیل کړه. د نارویې د کډوالۍ اداري اوس مهال یو کمیسیون ګمارلئ ترڅو زیات معلومات ترلاسه کړي: آیا دغه پروګرام د بیا یو ځای کېدو او د دایمي استوګنې لامل کېږي او د دغه پروګرام د مختلفو څانګو مرستې په څه ډول دي. دغه څېړنه د میچلسن د موسسې (CMI) لخوا ترسره شوېده. د لازیاتو معلوماتو لپاره دغه پتې ته مخه کړئ: www.cmi.no

## د افغانستان د سیمه ایزو مطالعاتو مرکز

یوه نوې څېړنیزه ویب پاڼه – www.rscaf.org – په سیمه کې رواني مسئلې، د افغانستان او ګاونډیانو اړیکې، اقتصادي وده، سیاسي جوړښتونه، د افغانستان کلتوري شتمنۍ، د افغانستان د اوسنۍ وضعې اغېزه پر منطقه، نړیوال سیاستونه او پر منطقه باندې د هغه اغېزې تر څېړنې لاندې نیسي. دغه سیاست (چې د جوړښت په حال کې دي) د افغانستان، منځنۍ آسیا، پاکستان، هند، ایران او ترکیه، عربي هېوادونه، چین، قفقاز او نورو سیاسي سیمو په اړه علمي څېړنیز معلومات وړاندې کوي.

## د افغانستان د نښتو څارنه

د افغانستان پر نښتو څارنه د سیمون فریسر د پوهنتون د نړیوالو مطالعاتو په پوهنځۍ کې د انساني امنیت د رپوټ د پروژې یو نوښت دي. دغه نوښت د افغانستان د نښتو په اړه نوې څېړنې او پلټنې وړاندې کوي او خپله د نښتې د مسئلې برسېره *څارنه* په پراخه کچه په اړوندو مسائلو لکه روغتیا، پراختیا، بیځایه کېدل، حکومت، جنسیت، سپکې وسلې، ځمکني ماینونه، د بشر حقوق او انتقالي عدالت هم متمرکزه ده. دغه پروګرام د مقالو او علمي رپوټونو لنډیز وړاندې کوي او اسنادو، خپرونو، سازمانونو، او معلوماتو ته لاسرسی شونی کوي. یوه بله آسانتیا چې دغه نوښت رامنځ ته کړې، د بریښنالیک له لارې د خبرونو لېږل د افغانستان امنیتي خبرونه (ASN) دي. اړوند خبرونه چې د هرې اوونۍ د دوشنبې په ورځ خپرېږي، خبرونه، څېړنیز رپوټونه، علمي مقالې، نخشې او ورځنۍ پېښې تر پوښښ لاندې راولي. د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره لاندې پتې ته مراجعه وکړئ: www.afghanconflictmonitor.org

## د افغانستان پلټونکي– د افغانستان د مطالعې لپاره انټرنټي سرچینه

دغه ویب پاڼه چې پر افغانستان متمرکزه ده موخه یې داده ترڅو د افغانستان په اړه د څېړونکو لپاره انټرنیټي سرچینه وي یا د کارپوهانو، څېړونکو، زده کړیالانو (محصلینو)، خبریالانو، او د غیر دولتي موسسو د کارکوونکو لپاره د پیل ټکي وي. د فعالو افرادو د نومونو نوملړ او د افغاني انټرنټي پاڼو ټولګه د دغه ویب پاڼې د خدمتونو څخه دي، د ژوندلیکونو یوه ټولګه هم پدې ویب پاڼه کې ځای په ځای شوې ده: http://afghanistan-analyst.org



# د دغه اداري نوی خپروني

دغه اداره د ۲۰۰۷ کال د مي او جولاي د میاشتو ترمینځ دغه لاندي خپروني چاپ کړي دي. د دغه اداري ټولي خپروني د www.areu.org.af ویب پاڼي څخه کښته یا ډانلوډ کولای شئ. د دغه خپرونو چاپي نسخي په وړیا توګه د دغه اداری د دفتر له لاري موندل کېداي شي. د دغه اداری د نوو خپرونو د الکترونیکي فهرست د موندلو لپاره، publications@areu.org.af پتې ته یو برېښنالیک چې ستاسو نوم او ترا و پکې ذکر شوي وي ولیږئ.

## حکومت

د قانون حاکمیت؟ د افغانستان د ملي پولیسو د سمون لپاره هڅې، د انډریو وایلډر لیکنه د پولیسو د سمون د هڅو پایلي د یادولو وړ لاسته راوړنو سره سره خواشیني کوونکي دي. وایلډر په خپل رپوټ کې پدې اړه بحث کوي چې دولت او د هغه نړیوال همکاران باید: ۰-د پولیسو د رول په اړه یو ګډ لرلید ته پراختیا ورکړي، ۱) د قانون د حاکمیت په پراخه ستراتېژۍ کار وکړي، ۲) د مرستندویانو مرستي د کورنیو چارو د وزارت په هر اړخیز سمون مشروطې کړي، او ۳) د امنیت د ځانګې مالي ثبات ته لومړیتوب ورکړي.




## معیشتونه

د پیسو لاسته راوړل: په کلیوالو سیمو کې د باور وړ غیر رسمي فعالیتونه، د فلور کلاین او آدام پېن لیکنه، دری موردي ترکیبي مطالعې دي، دغه مطالعې پدې اړه معلومات وړاندې کوي چې کوچني پورونه څرنګه کولای شي د باور وړ غیر رسمي فعالیتونه تر اغیزې لاندې راولي. دغه سند همدارنګه د وخت په تېرېدو سره په اعتباري فعالیتونو کې د تغیر او په کلیو کې پر میشتو ټولنیزو-اقتصادي اړیکو د هغه د اغېزې په اړه معلومات وړاندې کوي.

راستنېدل که پاتې کېدل: په پاکستان کې د افغانانو د دوهم نسل لالهاندتیا، د ممیکو ساټو او پامیلا هنټې لیکنه. دغه موردي مطالعه په پېښور، کوېټه او کراچۍ کې د افغانانو د دوهم نسل روایتونه پلټي چې افغانستان ته راستنېدو او په پاکستان کې د پاتې کېدو په اړه حیران دي.

## جنسیت (جندر)

د ګټو موضوع: د افغانستان په ولسي جرګه کې جنسیت او د حضور سیاست د انا وردسورت په لیکنه. د افغانستان د ملي شورای د ۲۴۹ څوکیو له ډلې ترڅلورمې برخې زیاتې یې ښځو ته ځانګړې شوې دي. مګر دغه رامینځ ته کړل شوي سیاسي فضا لامل شوي نه ده چې په ملي شورای کې د ښځو د جنسیتي ګټو په عیني توګه استازیتوب وشي. میرمن انا، په خپل اثر کې پدې اړه بحث کوي چې په ملي شورای کې د ښځو د جنسیتي ګټو استازیتوب په ډېره ټيټه کچه تر سره کېږي.




## طبیعي زېرمې

د افغانستان د څېړني او ارزوني اداري دری کلنه څېړنه د "د اوبو د مدیریت په اړه د کارولو موضوعي څېړنه، مالداري او د تریاکو اقتصاد" په نامه دری نوري څېړني هم خپرې کړې: په ټولنو کې د اوبو د مدیریت د سیستمونو بریالیتوب، د جاناتان لي لیکنه، د مالدارۍ تغذیه او تولیدات د آنتوني فیتز هربرت لیکنه، او د بلخ په ولایت کې د کوکنارو د کرزیاتوالي د آدام پېن لیکنه.

## ژباړې: پښتو او دري

دغه اداره د مي او جون په میاشتو کې د دوو توضیح پاڼو ژباړې خپرې کړې: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د افغانستان روغتیایي سیستم: شرایط ښه شوي، خوشبینونکي لرلید (د والدمن، لسلی استرانګ او عبدالولي لیکنه) او د دولت سره مرسته؟ نړیوالې مرستې او په افغانستان کې د دولت جوړوني توپیر (د هیمش نیکسون لیکنه).

# په افغانستان کې څیړنیزه منابع او کتابتونونه

ښکاره خبره ده چې څېړنه په افغانستان کی ورځ په ورځ یو صعودی قدم اخلی، او دخوښی خبره داده چې دپوهنتونونو محصلین هم دی ته هڅول شوی چی په ډول ډول مسایلو باندی څېړنه او لیکنی وکړی. وروسته لدی چی دعمل په میدان کی یو څېړونکی خپل دخوښی وړ معلومات راټول کړی، اسانه لاربی دکتابتون څخه دکار اخیستل دی. ډیر داسی کتابتونونه اومنابع شته دی چی دڅیړنی په اړوند نوی اوتازه معلومات ورڅخه ترلاسه کیدای شی. دافغانستان په مرکز کابل کی همدارنگه په ولایاتو کی داسی دولتی او نادولتی کتابتونونه اومعلوماتی منابع شته دی چی یو څیړونکی ورڅخه نیمه خوا نه راوزی دبیلگی په ډول:

## دافغانستان دڅیړنی او ارزونی اداری کتابتون

داکتابتون د افغانستان په اړوند دڅیړنو او څیړونکو لپاره مختص شوی دی. ددی کتابتون بیلگه دزیاتیدوپه حال کی ده، چی کتابونه، رسالی، راپورونه اومجلی یی په پښتو، دری، انگریزی او نورو بهرنیو ژبو باندی لیکل شوی. دیادونی وړ ده چی کوم اسناد اوکتابونه چی پدی کتابتون کی ځای په ځای شوی دیوی اکاډمیکی ساحی څخه یی سرچینه اخیستی ترڅو دڅیړونکو لپاره داعتماد وړ وگرځی. داوس لپاره یی هغه کتابونه اوراپورونه چی فهرسټ شوی شمیر یی د ۷،۰۰۰ شاوخواته رسیدلی او د ۲،۰۰۰ په شاوخواکی کتابونه اوراپورونه دفهرسټ پروسی ته تیار دی. ددغه کتابتون دکار وخت دسهار له ۸بجو څخه دمازدیگر تر۴بجو پوری ده. البته دغرمی ډوډی لپاره (۰۱:۰۰-۱۲:۳۰) دنیم ساعت لپاره ترلی وی. ددی کتابتون دفهرسټ دکتلو لپاره لاندی ویب پاڼی ته مراجعه کولای شی.

http://www.areu.org.af/index.php?option=com_content&task=view&id=11&Itemid=15

البته دلته تاسو پخپله خوښه سره پښتو لپاره "دکتابونو لیسټ" ددری لپاره "رده بندی کتابخانه" او دانگریزی لپاره " Library Catalogue " انتخاب کولای شی پدی فهرسټ کی کولای شی چی دخوښی وړ کتابونه مو په دری، پښتو او انگریزی حروفو باندی نظر وسرلیک (عنوان)، لیکوال، دموضوع عنوان او مسلسلی شمیری ته و پلټی.

## د کابل په پوهنتون کې د افغانستان د څیړنو د مرکز (ACKU) کتابتون

داکتابتون چی د کابل پوهنتون دعمومی کتابتون په ودانی کی ځای په ځای شوی هم دڅیړونکو لپاره مختص شوی. ددی کتابتون زیرمه هم دافغانستان په اړه ده. داکتابتون د ۳۷،۰۰۰ څخه زیات اسناد لری چی د افغانستان په هکله راټول شوی اکثراً په پښتو، دری او لویدیزو ژبو د گټی اخستنی لپاره چمتو دي. ددي زیرمي ځانگړتیا داده چه د ټولو پراختیائي سکتورونو او ورسره د ادبیاتو، موسیقی او کلتوری میراث هراړخیزه انځورنه پکی شوي ده همدارنگه مینه وال کولای شي دماخذ برخه په څیړنو کی وکاروي. د افغانستان د غمیزي څخه مخکی د پراختیایي راپورونو او د مجاهدینو نادره خپرونکی، DVD، د بی بی سی دوه زره رادیویی پروگرامونه لکه تاریخی پیښی، د بشر پیژندنی راپورونه او سمعی او بصری توکی چه د غیر دولتی موسسو د افغانی کډوالو لپاره او هم په افغانستان کی د ننه فعالیتونه پکی ځای شوی دي ددی زیرمی مهمه برخه جوړوی. د دغه کتابتون د کتابونو د لست د کتلو لپاره دغه ویب پاڼه وگورئ.

http://ackuaf.org / http://nzdl.sadl.uleth.ca/cgi-bin/library?a=p&p=about&c=acku&l=en&nl=1

## دافغانستان دعلومو داکاډمی کتابتون

داکتابتون چی دعلومو داکاډمی په ودانی کی موقیعت لری، داکتابتون دری برخی لری. الف، دتوضیح ځانگه–ب، دماخذ ځانگه –ج، دنوبتی خپرونو ځانگه. بر سیره پر دی داکتابتون دانټرنټ، انگریزی ژبی او د کمپیوټر دزده کړی شعبی هم لری چی عامه خلک او څیړونکی ورڅخه گټه اخلی. داکتابتون د ۲۸،۰۰۰ ټوکه په شاوخواکی ټولگه لری چی زیاته برخی یی په دری او پښتو ژبو چاپ شوی دی، دافغانستان دعلومو اکاډمی دلسو شمیرو په شاوخواکی (کابل، آریانا، خراسان، تیبیان، طبعیت، پشتو، افغانستان، تحقیقات کوشانی، زیری او تفکر) پنومونو نوبتی خپرونی هم لری. چی دادبیاتو، معارف، اقتصاد، تاریخ، جغرافیه، ژبپوهنی اوداسی نورو برخو کی کاری معلومات ورکوی. د ۴۰۰ عنوانه په شاوخواکی داسی علمی پروژی هم لری چی دعلومو داکاډمی پوهانو لخوا لیکل شوی او چاپ ته تیاری دی. ددی سره په څنگ کی کوم څیړونکی او لیکوالان چی وغواړی دافغانستان دڅیړنی په اړوند په شفاهی ډول باندی کاری معلومات ترلاسه کړی، ددی اکاډمی دپوهانو سره په اسانی سره کتلی شی.

## دکابل دپوهنتون مرکزي کتابتون

که څه هم داکتابتون ټولو افغانانو ته اشنا او ښکاره ده خو بیاهم دومره باید یادکړم چې دپوهنتون مرکزي کتابتون دڅیړنو لپاره دومره ځانګړتیا نلري، ځکه داکتابتون دمحصلینو دمسلکي زده کړو کتابونو باندې زیات تمرکز کوي، خو دبین المللي څیړنو لپاره تر یو حد پورې پکار اچول کیدای شي، او هغه څیړونکي او محققین چې وغواړي دافغانستان په اړوند څیړنې او لیکنې وکړي دومره ارزښتناک به ورته تمام نشي.

همدارنګه ټولې دلوړو زده کړو موسسې او پوهنتونونه لرونکي کم له کمه دیوه کتابتون دي چې زیاتره استفاده کونکي یې محصلین او داړوند پوهنتون ښوونکي دي.

## دکابل عامه کتابتون

دغه کتابتون چې دافغانستان دمرکزي کتابتون حیثیت لري دافغانستان په ټولو ولایاتو کې یوه یوه څانګه لري. چې دکتابونو ټولګه یې ۱۲۰،۰۰۰ ټوکه ته رسیږي دفلسفې، ساینس، طبابت، افغانستان پیژندنه، هنر، تاریخ، ژبې، دکوچنیانو څانګه، جغرافیه اونوروبرخوکې په دري، پښتو، انګریزي او نورو بهرنیو ژبو باندې لیکلي کتابونه لري. خو پدې کتابتونونو کې پخواني دفهرستې سیستم وجود لري چې اکثره مراجعین یې دکتابدار څخه پوښتنه کوي او دخوښې وړ کتاب ورته په لاس ورکوي، داکتابتونونه ویب پاڼه نلري نوځکه ددوی دفهرستې دلیدلو لپاره باید پخپله کتابتون ته مراجعه وشي.

## په وزارتونو کې موجود کتابتونونه

همدارنګه ټول وزارتونه کم له کمه یو کتابتون او معلوماتي مرکز لري، څو مثاله یې په لاندې ډول دي:

۱. دتعلیم او تربیې دوزارت کتابتون، چې پخپله دوزارت دننه موقعیت لري چې د ۱۰،۰۰۰ په شاوخواکې کتابونه لري او ۴۰٪ یې په دري او پښتو ژبه باندې لیکل شوي کتابونه دي او دافغانستان دتعلیم اوتربیې په اړوند دیادوني وړ کتابونه پکې ځای په ځای شوي دي. بر سیره پر دې دغه کتابتون په زیات شمیر سره نوبتي خپروني هم لري چه ددولتي او غیر دولتي منابعو څخه یې ترلاسه کوي.

۲. دښځو دچارو دوزارت کتابتون: داکتابتون هم د نوموړي وزارت دننه موقعیت لري چې د ۸،۰۰۰ په شاوخواکې زاړه اونوي کتابونه لري خو زیاتره کتابونه یې دایران چاپ دي چې په فارسي ژبه باندې لیکل شوي دي، ددې څخه علاوه په انګریزي ژبه لیکل شوي کتابونه هم شته دي چې داسیایي بنیاد (TAF) دفتر لخوا ورته ورکړل شوي دي.

۳. دافغانستان د احصایې د مرکزي دفتر کتابتون: داکتابتون لروني د ۱۸،۱۱۵ کتابونو اونشریو ده چې زیاتره یې دافغانستان داحصای او نفوس شمیرنې اړوند معلوماتو باندې دي، داکتابتون هم پخپله دمرکزي احصایې په تعمیر کې دننه موقیعت لري.

۴. دعدلیې وزارت کتابتون: داکتابتون هم د ۸،۰۰۰ په شاوخواکې کتابونه او نشریې لري اودحقوقي مسایلو اړوند مواد پکې په دري او پښتو ژبه باندې ځای په ځای شوي دي. ددې څخه علاوه دنوموړي وزارت ویب پاڼه www.moj.gov.af ډیره فعاله ده چې په پښتو، دري او انګریزي ژبه دافغانستان ټول قوانین، او نوري دعدلیې وزارت لخوا چاپ شوي خپروني او کتابونه لکه رسمي جریدې، دعدالت مجلې میاشتني خپرونه او آګاهي حقوقي (چې یوه نوې چاپ شوې خپرونه ده) پکې ځای په ځای شوي چې په اساني سره ترلاسه کیدای شي.

۵. دکرنې او اوبو لګول چارو وزارت کتابتون: د ۸،۰۰۰ په شاوخواکې دایران چاپ شوي فارسي کتابونه چې ټول یې دکرهنې اومالداري په هکله دي، ۲۸۰ عنوانه دزراعت په اړوند دپالیسي اسناد دي چې په معلوماتي مرکز کې ځای په ځای شوي دي، ۳۰۰ عنوانه په شاوخواکې دځنګلونو دریاست اړوند څانګه کې کتابونه شته دي چې دځنګلونو په باره کې لیکل شویدي.

۶. د سرحدونو ،قومونو اوقبایلو چارو وزارت: داوزارت یو کتابتون د څیړنو او مطالعاتو دمرکز پنوم لري. چې د ۴،۰۰۰ په شاوخواکې په دري، پښتو او نورو بهرنیو ژبو باندې لیکل شوي کتابونه لري، داکتابتون هم دوزارت دننه موقعیت لري، علاوه لدې څخه دنوموړي څانګې پورې مربوط افغاني څیړونکي هم کارکوي کوم چې دنوموړي وزارت د جرګې، غرجستان، هموطن اونورو نوبتي خپرونو لپاره لیکنې کوي. او څیړونکي، په خاصه توګه محصلین کولای شي چې دهغوی څخه دڅیړنې په اړوند کاري مشوري واخلي.

۷. دبهرنیو چارودوزارت کتابتون: ددې وزارت کتابتون هم دوزارت دننه موقیعت لري، اود ۷،۰۰۰ په شاوخواکې په دري، پښتو، او انګریزي اونورو ژبو باندې لیکلي کتابونه لري، اوددې سره په څواکې یو امریکایي مطالعاتي مرکز هم لري کوم چې دامریکا دسفارت دملکي چارو دکتابتون لخوا تمویل اوتیار شوي دي چې دکتابونو څخه علاوه دانټرنټ آسانتیاوې هم پکې شته والې لري.

۸. دحج او اسلامي چارو وزارت کتابتون: هم د ۲،۰۰۰ څخه زیات کتابونه په دیني او عقیدوي مسایلو باندي لري چې په عربي، پښتو اودري ژبو باندي خپاره شوي دي.

۹. د کلتور او ځوانانو وزارت کتابتون: داکتابتون هم چې دنوموړي وزارت په ودانۍ کې دننه موقعیت لري، د ۴،۰۰۰ په شاوخواکې کتابونه (په دري، پښتو او انګریزي ژبه)، د ۴۰۰ څخه زیاتي دوسیې دراډیو او تلویزیون په اړه او د ۱،۰۰۰ په شاوخواکې پښتو، دري او انګریزي ژورنالونه هم لري.

او همدارنګه نوروزارتونه هم لرونکي دکتابتونونو دي چې څیړونکې کولای شي ورڅخه ګټه واخلي، خو یوه نقیصه پدې کتابتونونو کې داده چې یو کاري فهرست نلري ترڅو یو لوستونکي او څیړونکې په اسانی سره دخپلې خوښې کتاب ترلاسه کړي.

همدارنګه هغه کتابتونونه چې دافغانستان په ټولو ولایاتو کې دافغانستان دعامه کتابتون تر ریاست لاندي کار کوي، دڅیړنو لپاره کاري معلومات ورڅخه ترلاسه کیدای شي. دیادونی وړ ده چې دولایاتو ګڼ شمیر کتابتونونه ډیر کارنده فهرست نلري ترڅو څیړونکې وکولای شي په اساني سره یې دویب پاڼې دلاري ووینې. ولې یو کتابتون چې دافغانستان دډیجیټال کتابتون په نوم یادیږي کولای شو چې دهري نقطې څخه یې په اساني سره دویب پاڼې دلاري ووینو او دافغانستان چاپ شوي آثار ورڅخه پورته اومطالعه کړو ددې کتابتو دویب پاڼې ادرس پدې ډول دی:

http://afghanistandl.nyu.edu/

او همدارنګه دامریکا دمتحده ایالاتو د اریزونا پوهنتون هم ددري کتابونو لپاره یو فهرست تیار کړی چې څیړونکې کولای شي دخپلې خوښې وړ کتاب ورڅخه پورته کړي او مطالعه یې کړي. دویب پاڼې پته یې په لاندې ډول ده:

http://150.135.239.44/cgi-bin/koha/opac-main.pl

پدې ډیجیټل کتابتون کې ټول هغه مواد چې د ۳۰-۱۹۱۸ کلونوکې په افغانستان کې په چاپ رسیدلي ځای پر ځای شوي دي. لکه قوانین او نور کتابونه.

عبدالجمیل الکوزی د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې (AREU) دکتابتون مدیر

اړین بولم دغه ټکي ته اشاره وکړم چې هر کله چې زموږ د هیواد ځوان څیړونکي د دوی د څیړنې په لړ کې د کوم معلوماتو په لټه کې وي، او د هغه دپاره باید کتابتون ته مخه وکړي، نو په کتابتون کې د لټون د میشتو امکاناتو پر ځای، یعنې د کمپیوټري دیټابیس له لاري د لټون، او یا د کتابونو د لیکلي لیست د لټون په ځای دوی کتابدارانو څخه د کتاب په هکله پوښتې. او په زیاتو مواردو کې دوی نیغ په نیغه له کتابدار څخه د خپل د اړتیا وړ معلوماتو پوښتنه کوي. یا خو دغه معلومات کتابدار ته معلوم وي او یا هم کتابدار ددی لپاره چې مرسته یې کړې وي هغه معلومات هغوی ته په کتابونو کې پلټې او د هغوی په چوپړ کې ږدي، چې دغه ته موږ څیړنه نشو ویلې او نه هم هغه شخص څیړونکې ویيل کیږي، ځکه چې څیړنه خو کتابدار تر سره کړه.

په زیاتو مواردو کې کله چې د کابل د پوهنتون زده کوونکې د هغوی د زده کړې اړوند موضوع په هکله څیړنه کوي هغوی له کتابدار څخه ډول ډول سوالونه کوي. خو غوره به دا وي چې کومه موضوع چې هغوی یې په لټه کې دي د هغه موضوع په اړوند کتابونو په هکله وپوښتي او بیا نوره څیړنه خپله تر سره کړي. او داسې کتابتونونه هم شته چې کمپیوټري دیټابیس لري، لکه د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري (AREU) کتابتون، او د کابل په پوهنتون کې د افغانستان د منابعو د معلوماتو د مرکزي (AREU) کتابتون چې څیړونکې کولای شي د کمپیوټري ډیټابیس په مرسته د هر هغې موضوع په هکله چې دوی غواړي څیړنې تر سره کړي معلومات وپلټي، او دوی کولای شي د لیکوال، د موضوع، او داسې نورو تورو له مخې کتابونه وپلټې، او کله یې چې د کمپیوټري ډیټابیس په لسټ کې خپل د علاقې وړ کتاب ترلاسه کړ، نو هر کتاب سره د "ښوونکې ګڼې" په نامه یوه ځانګړي شمیره ده، د هغې شمیرې له مخې کتابدار کولای شي چې د دوی د علاقې وړ کتاب دوی ته د څیړنې لپاره ورکړي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپل د کتابتون لپاره یوه ویب پاڼه لري چې د کتابونو لیست په دغه ویب پاڼه کې په پښتو، دري او انګریزي ژبه موجود دي، او ځینې کتابونه د PDF په بڼه دغه ویب پاڼې ته ور پورته شوي دي. څیړونکې کولای شي چې په آسانه توګه د هیواد له هر ګوټ څخه د خپل د اړتیا وړ کتاب په دغه ویب پاڼه کې وپلټي، او ځیني یې له ویب پاڼې څخه راښکته، او چاپ کړي. دافغانستان دڅیړنې اوارزونې اداري یواځینۍ موخه دا ده چې د څیړنې دلاري دافغانانو ژوند ښه کړي. او موږ هر کله دا هڅه کوو چې د کتابتونو دروازې، په خاصه توګه د زده کوونکو په مخ، تل پاتې نشي، او دوی وشي کولای چې په آرامۍ سره خپلې څیړنې تر سره کړي.

# اوسنۍ خیرنې او منابع

## افغانستان او بیا رغونه

دبنسټیزه حقونو ترلاسه کول: نړیوال تجارت سازمان ته دافغانستان درسیدلو لومړنی پړاو ته: داکسفام دناستی سند / اکسفام. -- کابل: اکسفام، ۲۰۰۷. -- ۴۱مخه؛ ۳۰ س م.

داراپور د (۲۰۰۷) کال د جون په میاشت کی داکسفام دنړیوال سازمان لخوا خپور شوی چی دمطلب لنډیزی یی په لاندی ډول دی: افغانستان پدی وروستیو کی دنړیوال تجارت سازمان سره دیوځای کیدو پړاو ته ورګډ شوی ده. له کومه ځایه چی په تجارت کی وده کولای شی یو هیواد له فقر څخه بهر کړی، که دهغو هیوادونو تجاربو ته وکړو چی د اقتصاد او پرمختګ له اړخه دافغانستان په کچه دی، نو څرګنده به شی که چیری دی پړاو ته پوره پاملرنه ونشی، نو دهیواد دغړیتوب شرطونه به دفقر دکمولو پروسه په ناوړه توګه اغیزمنه کړی. داسند په څرګنده کړی چی افغانستان څرنګه کولای شی دمتداوم پرمختګ اوفقر دکمولو لپاره دنړیوال تجارت سازمان دقرضو څخه په ښه بڼه استفاده وکړی. لپاره ددی چی داسند په مکمل ډول سره وګوری واکسفام لاندی ویب پاڼی ته مراجعه وکړی کوم چی (364KB) لویوالی لری.

http://www.oxfam.org/en/files/bp92_afghanistan_wto_accession_pashto_0706.pdf

## مدنی ټولنه

دافغانستان دمدنی ټولنی پراختیا : دکنفرانس رپوټ / دافغانستان دمدنی ټولنی مجتمع اوهمکاری ټولنی. کابل : دافغانستان دمدنی ټولنی مجتمع، ۱۳۸۵. ۱۹۷مخه ؛ ۲۴ س م.
همدارنګه په انګریزی او دری ژبه کی شته:

دافغانستان دمدنی ټولنی دپراختیا نړیوال کنفرانس چی د ۲۰۰۶ زیږدیز دډسمبر له ۲ تر ۷ نیټې پوری دکابل ښار کی دوام درلود دهغی موخی لپاره جوړ شوی وو چی دبن پریکړه لیک دموادو تر بشپړتیا وروسته دافغانستان دمدنی ټولنی خوځښت څرنګه وارزوی. دامسآله باید دڅیړل شی چی مدنی ټولنه دخپلو لارو په اوږدو کی له کومو ګواښونو سره مخ ده او کوم فرصتونه لری. داګواښونه اوفرصتونه باید په دقیقه توګه وپیژندل شی چی له ګواښونو دخلاصون لاری او له فرصتونو څخه دګټی اخیستنی لاری ولټول شی. دی کنفرانس کی همداراز هغه مسآلی او موضوع ګانی چی دمدنی بنسټونو ترمنځ دهمکاری دپیاوړتیا په اړه وی وڅیړل شوی. پردی سربیره په کنفرانس کی یوازی دافغانستان دمدنی ټولنی دبنسټونو له نړیوالی ټولنی سره داړیکو ټینګولو پرمیتودونو خبری ونه شوی بلکی په هیواد کی دنړیوالو مرستو داغیزمنتیا په اندازه هم بحثونه وشول. ددی کنفرانس بشپړ راپور دکتاب په شکل دافغانستان دڅیړنی اوارځونی په کتابتون کی کتلای شی او یا هم پخپله دافغانستان دمدنی ټولنی دمجتمع (مجما ) ددفتر څخه ترلاسه کولای شی.

## کرنه

*Arable land tenure in Afghanistan in the early post-Taliban era* / Hector Maletta. Published in “African and Asian Studies” 6 (۲۰۰۷) p. 13-52.

دغه مقاله د طالبانو د رژیم د رنګېدو راهیسې په افغانستان کې د کرنې په برخه کې د ځمکې پر جوړښت څېړنې کوي او په تېرو کلونو کې تازه لاسته راغلي معلومات وړاندې کوي. دغه رپوټ د کښت وړ ځمکو پورې اړوند دي او په هغه کې د ځمکې نور اړوند مسائل لکه څرځاي ته لاسرسي (چې زیاتره د ټولیز ] عامه [ ملکیت برخه دي ) یا ښاري ځمکې په ځانګړي ډول د اوسیدلو د ځاي لپاره، نه دي څېړل شوي. د دغه سند ځینې برخې په تېرو کلونو کې پر څرځایونو د تېري په هکله دي.

*Livestock health, production and marketing program: January 6, 2004 through June 30, 2006: final project report* / submitted by Dutch Committee for Afghanistan (DCA). [Kabul?]: Dutch Committee for Afghanistan (DCA), 2006. 27 p. ; 30 cm. http://pdf.usaid.gov/pdf_docs/PDACJ081.pdf (389 KB)

## جزئیات او عمومیات

*Afghanistan: a bibliography* / compiled by Heather Bleaney and Maria Angeles Gallego ; with a foreword by Willem Vogelsang. Leiden: Brill, 2006. xii, 398 p. ;

25 cm. ISBN 900414532X. (Handbook of Oriental studies, Section 8, Central Asia ; v. 13).

*Gender and employment in rural Afghanistan, 2003-2005* / Hector Maletta. 2006. 23 p. ; 30 cm. Forthcoming in the "Journal of Asian and African Studies" (2007). PDF (134 KB)

دغه مقاله د یو شمېر سرچینو، په ځانګړي ډول د ملي ګواښونو او زیان منلو د ارزونې (NRVA) د معلوماتو پربنسټ د کلیوالي ښځو بوختیا تشریح کوي. په ټولیزه توګه په کار کې د کلیوالي ښځو ګډون او د دوی د بوختیا کچه لوړه نه ده، بلکه په مختلفو سیمو کې یو له بله توپیر کوي.

په سهیل کې د ښځو د بوختیا کچه ډېره ټیټه ده په داسې حال کې چې په شمالي سیمو کې نسبتاً لوړه ده. د کلیوالي ښځو د بوختیا کچه د کلیوالي ښځو څلورمه برخه ده چې په کلیوالي کورنیو کې مېشتې دي. د کلیوالي بوختو ښځو تر نیمایي زیاته برخه اجېرې دي او زیاتره وخت د دوی د مزد کچه د نارینه وو د مزد د نیمایي څخه کمه وي. ډېر کم شمېر کلیوالي بوختې ښځې دي چې د خپل عاید واک ولري او د نور زیات شمېر ښځو عاید د نارینه وو لخوا کنټرول کېږي. د ښځو د بوختیا مسئله د شتمنۍ او دارایۍ سره معکوسه اړیکه لري او د ښځو د زده کړې سره لکه څرنګه چې د دوی په مینځ کې د ګډون کچه په ځانګړي ډؤل په منځنیو او هوسا کورنیو کې زیاته، او د بېکارۍ کچه کمه وي، مستقیمه اړیکه لري. د ښځو د بېکارۍ کچه د نارینه وو د بېکارۍ دوه برابره زیاته ده. د دغه سند د پایلو په برخه کې یاد شوي ټکي د راتلونکو څېړنو او سیاست جوړولو لپاره د اصلي موندنو لومړیتوبونه څرګندوي.

## اقتصادي پرمختیا

*1386 budget papers distributed at the Afghanistan Development Forum 2007 (April)*. Government of Afghanistan Ministry of Finance. Contents: [01] Core budget 1386 (28 p.)—[02] External budget 1386 (15 p.)—[03] Operating budget tables 1386 (5 p.)

*Afghanistan Development Forum (ADF): 29th-30th April 2007, Kabul, Afghanistan. Kabul, Afghanistan: Islamic Republic of Afghanistan, 2006. 1 looseleaf folder (4 ring, 32 cm) + 1 computer optical disc.*

محتوا: [۰۱] اجندا (۱ مخ.) – [۰۲] اجرایي لنډیز (مسوده) (۱۰ مخه) – [۰۳] د افغانستان د ملي پرمختګ د کړنلارې لپاره د عامې روغتیا کړنلاره: پر لومړیتوبونو د تمرکز پر بنسټ: مسوده: د سید امین فاطمي، فیض الله کاکړ، صلاح الدین ضیا او ګل غوټۍ نجیب لخوا چمتوشوې (د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د مارچ د میاشتی ۱۱مه،: ۲۳ مخه) – [۰۴] د افغانستان د ملي پرمختګ لپاره د انرژۍ د برخې کړنلاره: پر لومړیتوبونو د تمرکز پر بنسټ / د اسماعیل خان، میرمحمد صدیق او راحت الله نعیم لخوا چمتو شوې (د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل ۱۵،: ۳۱ مخه) [۰۵] د افغانستان د ملي پرمختګ د کړنلارې لپاره د پوهنې د وزارت کړنلاره: پر لومړیتوبونو د تمرکز پر بنسټ، مسوده / د حنیف اتمر او نورو همکارانو لخوا چمتو شوې (د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د مارچ میاشت،: ۲۲ مخه، په انګریزي او دري ژبو)- [۰۶] د مرستو اغیزې ته لومړیتوب ورکول: د افغانستان د پرېکړه لیک او د پاریس د وینا د ژمنو په نظر کې نیولو سره: وروستنۍ مسوده، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل د میاشتې ۱۸مه نیټه (۱۵ مخه). [۰۷] د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لپاره د ملي ظرفیت جوړولو پروګرام او پالیسي، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت (۱۵ مخه)- [۰۸] په افغانستان کې د ملکي خدماتو لپاره د ظرفیت جوړولو پلان: مسوده، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت، ۱۱مخه) [۰۹] په افغانستان کې د فني مرستو او ظرفیت جوړولو څېړنه: د افغانستان د پرمختګ د نظرونو د تبادل د مرکز لپاره د بحث وړ موضوعات (۳۲ مخه) [۱۰] د ولایتونو پرمختګ، ولایتي بودجه او د ولایتي پرمختګ او د ملي پرمختګ د ستراتېژۍ متحد کول: د افغانستان د پرمختګ غونډې (ADF) لپاره د بحثونو مسوده، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت،: ۳۴ مخه. [۱۱] د ولایتونو پرمختګ، ولایتي بودجه او د ولایتي پرمختګ او د ملي پرمختګ د ستراتېژۍ متحد کول: د افغانستان د پرمختګ غونډې (ADF) لپاره د بحثونو مسوده، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت ، (انګریزي ګڼه ۳۴ او دری ګڼه ۴۳ مخه ) [۱۲] د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لپاره د فساد په وړاندې د مبارزې طرحه: مسوده، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت(۳۰مخه) [۱۳] د کډوالو او بېځایه شوو لپاره د اوږدمهالو حل لارو پیدا کول د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت / د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ لپاره، د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د اپریل میاشت(انګریزي ګڼه ۱۱ او دری

ګڼه ۱۲ مخه) [۱۴] لومړیتوبونه، په ۱۳۸۵ کال کې د لویو څانګو بریالیتوبونه او د هغوي پروړاندې ستونزې: کلنۍ ارزونه [۱۰ مخه]- [۱۵] په ۱۳۸۵ زیږدیز کال کې د افغانستان د بریالیتوبونو لنډیز، د ۲۰۰۶ زیږدیز کال د مارچ د میاشتې ۲۱مه نیټې څخه د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر ۲۰مې نیټې پورې. (۲۴ مخه)
www.adf.gov.af/index.asp?page=home

*Getting the fundamentals right: the early stages of Afghanistan's WTO accession process*. Kabul: Oxfam International, 2006. 42 p. ; 30 cm. (Oxfam briefing paper 92).

افغانستان باید د سوداګرۍ د نړیوال سازمان سره د یوځای کېدو لپاره بېړه و نه کړي. چټک یوځای کېدل ښایي ډېرې کمې ګټې ولري او ښایي د فقر د کمښت د هڅو د کمزورۍ لامل شي. په ځیر سره پروګرام جوړول د هغو درنو ژمنو د اجتناب یوائېنۍ لاره ده کومې چې پر نورو هېوادونو تحمیل شوې دي، په ځیر سره پروګرام جوړونه کولای شي د داسې مکافاتو سبب وګرځي چې په یوه څو اړخیز سیستم کې د غړیتوب لامل شي. په هېواد کې د شدید فقر په نظر کې نیولو سره، د بیا رغونې پراخه هڅې او امنیتي اندېښنې ، په دغه پروسه باید ټول دخیل لوري د افغانستان د مناسب یو ځای کېدو لپاره یو وړاندیز وکړي چې د پرمختګ په ګټه او د کم پرمختللو هېوادونو د ناوړه وضعیت سره همغږې وي.

www.oxfam.org/en/policy/briefingpapers/bp92_afghanistan_wto_accession_0706

Integrated Rural Rehabilitation to Improve Livelihoods and Curb Poppy Production (IRRILP) final report Badakhshan Province, November 2004-December 2006 / implemented by Aga Khan Foundation, Afghanaid, Concern. Kabul Aga Khan Foundation, 2006. 1 v. (various pagings); ill. ; 30 cm. PDFs (60 MB).

د دغه پروژې په اوږدو کې، د معیشت د چوکاټ اصلي عناصر (شتمني، زیان منل او پالیسي، ارګانونه او پروسې) په نظر کې نیول شوي دي. دغه پروژې په نظر وړ سیمو کې د خاشخاشو د کښت په ټولیز کمښت کې مرسته کړېده. دغه ترکیبي سند د آغا خان د پراختیا شبکې ، Afghan Aid، GTZد ریپوټونو او د حکومت، امنیت او اقتصادي ودې ، په بدخشان کې د جورم او بهارک په ولسوالیو کې د خشخاشو د کښت تعینوونکي چې د ډیویډ منزفیلد لخوا په ۳۵ مخونو کې چمتو شوي، جوړ شوي دي.

Joint Coordination and Monitoring Board: papers from the fifth Joint Coordination and Monitoring Board (JCMB) meeting, 1 May 2007. Kabul: Afghanistan National Development Strategy Office, 2007.

محتوا: [۰۱] اجندا (یو مخ په انګریزۍ ژبه) – [۰۲] لنډیز: د افغانستان د تړونلیک بشپړونه (۱ مخ) – [۰۳] کالنی راپور (۱۲ مخه) – [۰۴] د افغانستان شرایط او پر نړیواله سوله او امنیت باندی د هغه اغیزه / د ملکرو ملتونو عمومی غونډه (۱۸ مخه) – [۰۵] جدول ۱: د انسجام او څارنی د ګډې غونډې د تیرو کړو او پریکړو لنډیز (۲ مخه) – [۰۶] جدول ۲: د تړونلیک د معیارونو د لنډ عمر لنډیز (۱۰ مخه) – [۰۷] جدول ۳: د افغانستان د تړونلیک د ټولو معیارونو اجرایي لنډیز (۲۲ مخه) – [۰۸] د معیار د حالت راپور، د ۲۰۰۶ زیږدیز کال له مارچ څخه د ۲۰۰۷ کال د مارچ تر میاشتی پوری / د کاری او مشورتي ډلو له خوا برابر شوی (۱۱۱ مخه) – [۰۹] د ټاکنو سپینه پاڼه: په افغانستان کې د کیدونکې، ثابتو، او د مالی توان وړ ټاکنو څخه ملاتړ (۳ مخه) – [۱۰] د افغانستان د ملي پولیس د موخه ییز قدرت په اړه د څارنی او انسجام د ګډ دفتر کاری قوه (۵ مخه) – [۱۱] د ناپایېلی اداری سمون او ملکی خدمتونو د کمیسیون د پروګرامونو د بشپړونې او اغیزمنتوب کتنه (۵ مخه) – [۱۲] د افغانستان د اسلامی جمهوریت لپاره د فساد پر و ړاندی لاره: مسوده (۳۰ مخه) – [۱۳] په افغانستان کې د ملکی خدمتونو لپاره د ظرفیتونو د پرمختګ پلان: مسوده (۶ مخه) – [۱۴] ضمیمه ۱: د تړونلیک شالید او د هغه بشپړونه پیاوړی کول (۴ مخه) – [۱۵] ضمیمه ۲: د کتنی لاندی کال: د سکتور اصلی بریالیتوب، ننګونی او لومړیتوبونه (۱۱ مخه) – [۱۶] د رسنیو ګډه اعلامیه / ګډه رسنیزه اعلامیه (۱ مخ). د پی ډی اف په بڼه
www.ands.gov.af (6.71 MB)

